مسیر
ورځپاڼه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ ۲۲مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۳مه | ۷۴۹مه گڼه

2 017550 139621

## ځېره

۴ مخ

## نصیراحمد احمدي



ښاغلي احمدي په خپل شاوخوا ۲۵ کلن ادبي ژوند کې د خپل ادبي عمر برابر شاوخوا ۲۶ کتابونه ولیکل او ځینې یې وژباړل، چې تر ټولو وروستی لیکلی کتاب یې «د غنې ځاله» په نوم ناول و، چې شاوخوا یوه میاشت مخکې چاپ شوی.

# د بیان آزادۍ پر ضد هڅې او غبرگونونه؛

## د رسنیو ملاتړي بنسټونه: د بیان د ازادۍ پر وړاندې نوي گواښونه د نظام د ریښو د ایستلو مانا لري



۳

## د جمهوریت ساتلو لپاره دیکتاتورۍ او استبداد

۲ مخ

## افغانستان؛ سختې شپېې تجربه کوي

۲ مخ

## د سمندري چارو په برخه کې د چین پرمختگ

۳ مخ

## کرنې ریاست: روان کال په ننگرهار کې د شاتو د تولید کچه ۵۵۰ ټنو ته رسېدلې



د ننگرهار د کرنې ریاست چارواکي وايي چې د شاتو د تولید زیاتوالي په موخه یې د دغه ولایت د ۲۲ ولسوالیو له ۳۰۰ شاتو مچیو پالونکو سره د شاتو مچیو د پالنې د اړوند توکو مرسته کړې ده.

د یاد ولایت د کرنې رییس انعام الله صافی وایي، چې په دغو مرسته شویو توکو کې موم، د درملو شیندلو پمپ، خوراکه، بوشکې، د شاتو ټولولو پنجې، درې سایزه بوتلونه، د لوگې پمپ، خولۍ، د ملکو د لېږدونې قفسچې، د پیوندي ملکو د تولید حجرې او نور اړونده توکي شامل دي، چې په دغه ولایت کې د شاتو تولید زیاتوالي او د شاتو مچیو پالونکو د ملاتړ په پار پر دوی وېشل شوي دي.

صافی دغه راز زیاتوي چې په ننگرهار کې د شاتو مچیو نږدې ۶۰۰ لوی او واړه فارمونه شته، چې تر ۴۵زره د شاتو کورنۍ پکې روزل کېږي، چې سږکال ترې ۵۵۰ ټنه شات ترلاسه شوي دي.

## امریکا: د ځواکونو د ایستلو پروسه مو روانه ده، افغان پوځ دې له خپلې خاورې دفاع وکړي

د امریکا دفاع وزارت یا پنټاگون وايي، چې دوی د طالبانو له لوري ورځ تر بلې د لا ډېرو سیمو نیول او نور فعالیتونه تر ژور څار لاندې لري.

د یاد وزارت ویاند جان کربي له فاکس نیوز سره په مرکه کې زیاته کړې، چې امریکایي پوځیان له افغانستان څخه د وتلو په حال کې دي او دا پروسه په ښه ډول مخته روانه ده. هغه ټینگار کړی، چې اوس د دې وخت رارسېدلی چې افغان ځواکونه رامخته شي او له خپلې خاورې څخه په کلکه دفاع وکړي، دا د مسوولیت منلو وخت دی.

نوموړي دغه راز ویلي چې دوی به د ځواکونو تر وتلو وروسته هم له افغان پوځ سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي او په خبره یې، امریکا کولی شي له هر ځای څخه افغان ځواکونو ته مشورې ورکړي. کربي څرگنده کړې چې د امریکا او ناټو ډېری پوځیان له افغانستانه وتلي او څه چې پاتې دي، هغوی به د اگسټ میاشتې تر پایه له دغه هېواده ووځي.

له دې سره جوخت لانگ وار ژورنال په یوه مقاله کې ویلي چې طالبانو د روانې جگړې لپاره له کلونو راهیسې پلانونه جوړول او په سیستماتیکه توگه غواړي د افغانستان ډېره برخه سیمې ونیسي. دغه نشریه وايي چې د القاعده شبکې په گډون د سیمې ټولې افراطي او ترهگرې ډلې په افغان جگړه کې ښکېلې دي. سرچینه کاږي چې د ازبکستان اسلامي غورځنگ، جماعت انصارالله، لشکر طیبه، جیش محمد او نورې هغه ډلې دي چې دلته په یوه ډول نه په یو ډول په جگړه کې ښکېلې دي.

## د بشري حقونو بنسټونه: د افغان جگړې ډېری قربانیان عام وگړي دي



۲ مخ

## مسؤلیت فرماندهی نیروهای امریکایی در کشور به مک کینزی انتقال یافت



در آستانهٔ پایان یافتن مأموریت نظامی امریکا در افغانستان، مسؤلیت فرماندهی نیروهای امریکایی در این کشور از جنرال میلر به جنرال فرانک مک کینزی انتقال یافت.

جنرال سکات میلر در سال ۲۰۱۸ میلادی مسؤلیت «مأموریت فرماندهی پشتیبانی قاطع» را در افغانستان به‌عهده گرفت. در آن زمان، شماری نیروهای ناتو به شانزده هزار تن و شمار نیروهای امریکایی به چهارده هزار تن می‌رسید.

مک کینزی در شرایطی مسؤلیت فرماندهی نیروهای امریکایی در افغانستان را به‌عهده می گیرد که قرار است تا ۳۱آگست مأموریت نظامی امریکا در افغانستان به پایان برسد و اکنون نیز نبردها در افغانستان بیش از هر زمان دیگر شدت گرفته‌اند.

سکات میلر اما از طالبان خواست که خشونت‌ها را کاهش بدهند و به میز مذاکره برگردند: «خشونت‌ها در تمام کشور افزایش یافته‌اند و با این افزایش، نمی‌شود که به صلح دست یافت، به طالبان می گویم که خشونت‌ها را کاهش دهند.»

مک کینزی قرار است مأموریتش را زیر نام «نیروهای امریکایی به‌پیش» آغاز کند. فرمانده تازه نیروهای امریکایی در افغانستان اطمینان می‌دهد که افغانستان به پناهگاه هراس‌افگنان مبدل نخواهد شد: «خروج نیروهای امریکایی از افغانستان ادامه دارد و تا اواخر ماه آگست به پایان می‌رسد، اما پشتیبانی ما از نیروهای دولتی افغانستان ادامه می‌یابند.»

حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور نیز که در مراسم آغاز به‌کار مک کینزی حضور داشت، گفت که پس از خروج نیروهای خارجی از افغانستان، خلاهایی ایجاد شده‌اند که نیروهای امنیتی در حال پر کردن آن خلاها استند.

کتاب مو
د ژوند ملگری کړئ
Aksos
اکسوس کتاب‌پلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د جمهوریت ساتلو لپاره دېکتاتوري او استبداد

حکومت په دې وروستیو کې ځینې داسې ګامونه اخیستي، چې په واضح ډول د جمهوریت له ارزښتونو او آن له نافذه قوانینو سره په ټکر دي. په رسنیو او ژورنالېستانو پرله‌پسې فشارونه، د ځینو خلکو ګواښل، نیول او ځینو نورو ته ستونزې جوړول هغه څه دي چې حکومت یې په دې وروستیو کې کوي. دوی استدلال کوي چې د دښمن په ګټه د تبلیغاتو مخه نیسي او نور اجازه نه ورکوي چې څوک د نظام خلاف خبرې وکړي.

جمهوریت پر ځینو ارزښتونو ولاړ دی چې پکې سیاسي مخالفت او د بیان ازادي هم راځي. دا دوه مهم او اساسي مسایل دي چې له دې پرته جمهوریت مانا نه لري. دا سمه ده چې د بیان ازادي او سیاسي مخالفت خپل حدود لري او باید مراعات شي، خو مهمه دا ده چې دا حدود معلوم شي او بیا که څوک دا حدود ماتوي، نو ورسره دې چلند ډول هم قوانینو تعریف کړی دی. لومړی خو دا خبره د تامل وړ ده او حکومت ته ترې دفاع سخته ده چې ګواکې دوی د نظام د مخالفینو او د دښمن په ګټه د تبلیغ کوونکو مخه نیسي. په وروستیو کې د دوی فشارونه د ټولو هغو پر ضد دي چې د حکومت سیاسي مخالفت کوي. حکومتي چارواکي د نظام مخالفت او د حکومت مخالفت سره ګډوي او له همدې د خپلو سیاسي مخالفینو د ځپلو او پرې د فشار راوړلو لپاره کار اخلي. د دې تر څنګ د بیان ازادي او د دښمن په ګټه تبلیغ هم توپیر لري، خو دلته پر حکومت نیوکه او د بیان له ازادۍ سالمه استفاده هم د دښمن په ګټه تبلیغ ګڼل کېږي.

دا هم سمه ده چې حکومت حق لري په داسې حالاتو کې چې دوی فکر کوي یو څوک د دښمن په ګټه تبلیغ کوي او یا نظام تخریبوي، پر وړاندې یې ګام پورته کړي، خو دا ګام پورته کول هم قانون تعریف کړی دی. له بده مرغه حکومت خپله قوانین تر پښو لاندې کوي او د جمهوریت پر مرۍ یې پښه اېښې ده. همدا چې د ولسمشر لومړی مرستیال یوه وکیل ته زنګ وهي، بد رد ورته وایي او بیا هغه پر فیسبوک خپروي، دا خپله استبداد او د قانون خلاف کار دی. آن که دا وکیل سل په سلو مجرم هم وي، بیا هم قانون خپله لاره لري. دا لاره اساسي قانون او نورو قوانینو روښانه کړې ده، خو د جمهوریت دغه دعوه کوونکي قانون ته نه ګوري او هغه څه کوي چې زړه یې غواړي. همداسې که پر یو چا تور لګېږي چې د دښمن د وینا له ازادۍ ناسمه استفاده کوي، په دې اړه هم قوانین صراحت لري چې څه ډول چلند باید ورسره وشي، خو دلته حکومتي چارواکي بیا قانون مهم نه ګڼي، بلکې خپله پرېکړه کوي.

له نظام او جمهوریت څخه دفاع باید د قوانینو او هغو ارزښتونو پر اساس وي چې جمهوریت یې لري. جمهوریت په ظلم، استبداد، ناقانونه کړنو او د غیر جمهوري کارونو په وسیله نه کېږي، بلکې پکار ده چې تل قانون او د جمهوریت ارزښتونو ته پام وشي. که د جمهوریت د ساتلو لپاره استبداد او دیکتاتوري کارول کېږي، قانون تر پښو لاندې کېږي او د جمهوریت ارزښتونو ته پام نه کېږي، نو دا لاره بیا ترکستان ته تللې ده. جمهوریت باید جمهوریت پاتې شي، قانون او جمهوري ارزښتونو ته درناوی ولري او د استبداد او دیکتاتورۍ لارې پرېږدي.

# افغانستان؛ سختې شېبې تجربه کوي

لیکنه: شفیق الله مشال

په افغانستان کې ورځ تر بلې زیاتېدونکې ناامنۍ له افغان ولس سره لویې اندېښنې پیدا کړې دي. له کومې ورځې چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو پرېکړه وشوه، تمه داسې وه چې په افغانستان کې به دغه ناورین چې کلونه کلونه یې وخت ونیو، پای ته به ورسېږي او افغانان به په خپلو منځونو کې په خبرو سره جوړ او نور به افغانان پر خپله خاوره د ژوند ساه واخلي او ارامه ژوند به پیل کړي؛ خو د دغې تمې خلاف له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو سره په افغانستان کې جګړې زور واخیست، طالبانو د افغانستان په بېلابېلو ولسوالیو کې خپلو بریدونو ته زور ورکړ، چې په کمه موده کې یې ډېرې ولسوالۍ تر خپل کنټرول لاندې راوستې.

د ولسوالیو نیول یو څه عادي خبره نه ده، ځکه چې له دې وړاندې د وړو پوستو نیول ډېر ګران کار و، چې دغه کار د افغان حکومت لپاره یوه لویه ماتې ګڼل کېږي؛ ځکه چې اوسنی نظام د ولسونو په همکارۍ او قربانۍ سره تر دې دمه ساتل شوی، که حکومت د ولسونو همکاري په خپله په لوی لاس له لاسه ورکړي، نو دا به بیا د حکومت لپاره یوه لویه ضایع وي چې هېڅوک به یې جبران نه کړي چې پایله به یې د نظام په سقوط سره پای ته رسېږي؛ خو اوس په کم وخت کې د لویو ولسوالیو سقوط او په ځینو ځایونو کې پرته له مقاومته د افغان ځواکونو له لوري د سیمو پرېښودلو او له ولسوالیو څخه تر ښاره د جګړې رسېدو خلک حیران کړي.

په دومره چټکۍ سره د هېواد د ډېرو ولسوالیو سقوط په څه مانا؟

آیا طالبان پیاوړي شول چې افغان حکومت یې اوس مخه نشي نیولی او که د پردې تر شا بل څه دي؟ او که د افغان حکومت په امنیتي چوکاټ کې نیمګړتیاوې او فساد موجود دی؟

په کم وخت کې د طالبانو له لوري د ډېرو ولسوالیو سقوط زیات عوامل لري:

لومړی؛ د حکومت په چوکاټ کې په تېرو کلونو کې حکومتي چارواکو او سیاسیونو د دغه ډول حالت د راتلو او ورسره مخامخ کېدلو لپاره هېڅ راز چمتووالی نه درلود.

دوی به په خپلو منځو کې د چوکیو پر سر سره وران وو، په پراخه کچه فساد کې ښکېل وو، د ملي ګټو پر ځای یې د شخصي ګټو لپاره کار کاوه، اوسمهال یو ناڅاپي له دغه ډول وضعیت سره مخامخ شول چې کابو کول به یې ورته یو څه سخت تمام شي؛ ځکه چې دوی په تېر کې د خپل حکومت او نظام لپاره څه ونه کړل، اوس یوڅه ناوخته شوي چې له‌ړه بې‌غوري دغه کار لا پسې ناوخته کوي او د حکومت کړی تنګوي.

دویم؛ د طالبانو پیاوړتیا، بې له شکه چې په دغه باندې هر سړی خبر دی، چې د طالبانو مشران په پاکستان کې حمایت کېږي، هلته یې ټپیان وړل کېږي او درملنه یې کېږي، چې دغه خبره څو ورځې وړاندې د پاکستان د کورنیو چارو وزیر هم وکړه، چې د طالبانو کورنۍ په پاکستان کې دي، دلته یې مړي راوړل کېږي او ټپیان یې تداوي کېږي.

پاکستان په افغانستان کې له اوسني وضعیت څخه د ګټې پورته کولو په لټه کې دی او دغه فرصت د امریکا وتل دي، چې نږدې ۹۰ سلنه ځواکونه یې وتلي او پاتې یې ممکن په لنډو ورځو کې ووځي.

اوس چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو په بشپړ ډول د وتلو خبره کېږي، نو پاکستان هڅه کوي چې د طالبانو په واسطه په افغانستان کې خپلو شومو اهدافو ته په اسانۍ سره ورسېږي، چې بیا د دوی لپاره د دې لارې تعقیب ګټور دي او له جګړې څخه هم داسې ښکاري چې دوی په افغانستان کې د سولې نه؛ بلکې د جګړې لپاره کار کوي.

دریم؛ د طالبانو او افغان حکومت تر منځ هره ورځ د ولسوالیو لاس په لاس کېدو، په یادو سیمو کې خلک له زیاتو ستونزو سره مخ کړي دي. په کومو سیمو کې چې جګړو زور اخیستی، له هغې ورځې په هغو سیمو کې د ژوند بهیر په ټپه دربدلي ده. په هغو سیمو کې روغتیایي، اقتصادي، فرهنګي، ټولنیز، ښوونیز او روزنیز او دې ته ورته نور زیات خدمات په ټپه ولاړ دي.

د جګړو له سیمې هره ورځ په سلګونه او زرګونه کورنۍ د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي او د خپل ژوند د خوندي کولو لپاره ورڅخه د خپل ژوند هر ډول کارونه پاتې شوي دي، ژوندي یې په بې سرپنا، غربت، بې روزګارۍ او اور کې تېرېږي.

په دغه جنګ کې د ډېرو افغانانو کورونه وران شول او په ځینو ځایونو کې بازارونه او د خلکو مالونه وسوځېدل، چې دغه کار لا هم دوام لري. افغان حکومت ولې د جګړو په مهار کولو کې پاتې راغلی چې جګړې یې د ولایتونو تر مرکزونو ورسېدې؟ آیا افغان حکومت یې د مهار کولو وړتیا نه لري که کومه بله خبره ده؟

خو افغان چارواکي خپل پوځونه له افغان خاورې څخه د ساتنې لپاره وړ بولي او وايي چې له افغانستان څخه دفاع کولی شي او ورسره هم د نړۍ ځینې مشران او د ځینو هیوادونو استازي هم دغه خبره کوي، چې افغانستان اوس منظم او تجهیز شوی پوځ لري، چې له خپلې خاورې څخه به دفاع وکولی شي؛ خو بیا ولې دوی په شا کېږي او د ولایتونو تر مرکزونو جګړې رسېږي؟ او هره ورځ د څلورو او پنځو په شمېر کې ولسوالۍ د طالبانو له لوري نیول کېږي او حکومت یې په اسانۍ سره پرېږدي، چې دوی یې تاکتیکي شاتګ بولي؛ خو چې دوی ورته هر څه وايي سیمې او ولسوالۍ د طالبانو لاس ته لوېږي او د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمې ورځ په ورځ د پراخېدو په حال کې دي، چې دغه کار د خلکو اندېښنې راولاړې کړې دي، چې په دې تړاو تر ډېره افغان حکومت خاموش دی.

له دولت څخه په لوی لاس ډېرېدونکې ناامنۍ چې د مهار کولو طریقې یې اوس د حکومت په لاس کې شته، خو چې دوی دغه کار نه کوي، حتماً کوم راز پکې شته دی.

که حکومت د ولسوالیو د سقوط او د جګړې د کنټرول کولو لپاره کار ونه کړي، همداسې دغه بې‌غوري ادامه ولري او د خلکو په ژوند ملنډې ووهل شي، ربړول او وژل جریان ولري، که دغه کار هره ډله هم کوي، مسوولیت به یې افغان حکومت ته راجع کېږي، چې په دې سره به افغان حکومت د ولس په منځ کې شته خپل موقف او اعتبار له لاسه ورکړي.

# د بشري حقونو بنسټونه: د افغان جګړې ډېرې قربانیان عام وګړي دي


© DW/H. Hashimi

د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون او سازمان وايي، په هېواد کې د جګړو ډېرې قربانیان عام وګړي دي. یاد کمېسیون په هېواد کې روان جګړه‌ییز وضعیت د اندېښنې وړ بولي.

د دغه کمېسیون د رسنیو برخې مشر ذبیح‌الله فرهنګ وايي چې کمېسیون په دې اړه په خپل شپږ میاشتني راپور کار کوي، چې ډېر ژر به بشپړ او له خلکو او رسنیو سره شریک شي.

په ورته مهال د افغانستان د بشر حقونو سازمان هم په دې اړه اندېښنه ښیي. د دغه سازمان مشر لعل ګل لعل وايي: «په خواشینۍ سره چې ورځ بلې ته په هېواد کې جګړې زیاتېږي، دا د دې لامل ګرځي چې ملکي خلک ووژل شي، دوی ته د سر او مال زیانونه اوړي او له خپلو مېنو بې‌ځایه کېږي، دا هغه څه دي چې د بشري حقونو پر بنسټ جنګي جنایات بلل کېږي.»

بلخوا د وروستیو جګړو د قربانیانو کورنۍ هم له افغان حکومت او طالبانو د اوربند غوښتنه کوي. ۱۵ کلن احمد شریف شاوخوا یوه میاشت وړاندې د لغمان ولایت د مهترلام ښار په عمرزیو کلي کې د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو او طالبانو په جګړه کې په لاس ټپي شوی. نوموړی زیاتوي: «په لغمان کې جګړه وه، خو مرمۍ زما په لاس ولګېده، مرمۍ د پیکا وه، مخکې نه مې لاس ښه دی، خو ډېر پړسېدلی دی، مور اوس کابل ته راکډه شوي یو.»

په ورته مهال افغان حکومت او طالبان بیا ټینګار کوي چې د جګړو پر مهال د ملکیانو خوندیتوب ته ډېر پام کوي، خو د وروستیو جګړو د ملکي قربانیانو حال دا څرګندوي چې په دې ژمنو عمل نه‌دی شوی.

په افغانستان کې د جګړو له کبله د ملکي مرګ ژوبلې په تړاو دا اندېښنې داسې مهال دي، چې د امریکایي او نړیوالو ځواکونو د وتلو له اعلان وروسته په ګڼو ولایتونو کې جګړې او نښتې ډېرې شوي او هره ورځ پکې پر ښکېلو خواوو سربېره، ډېرو ملکیانو ته هم مرګ ژوبله اوړي.

# د سمندري چارو په برخه کې د چین پرمختګ

لیکنه: یاسمین؛ د چین میډیا ګروپ د پښتو ژبې څانګې خبریاله

د جولای ۱۱مه د چین د سمندري سفرونو له ورځې سره برابره ده. ۱٦ کاله مخکې یانې د ۲۰۰۵ کال د جولای ۱۱مه لوېدیځ ته د مشهور چینايي دیپلومات جنګ هه د سمندري سفر د یادونې له ٦۰۰مې کلیزې سره برابره وه او له همدې کال څخه وروسته هر کال د جولای ۱۱مه د چین د سمندري سفرونو د ورځې په توګه ټاکل شوې ده.

د چین د سمندري سفرونو ورځې د فعالیتونو انتظامي کمېټې د جولای په ۱۱مه ((د ۲۰۲۱ کال د چین د سمندري سفرونو ورځې اعلامیه)) خپره کړه. په دغه اعلامیه کې راغلي، چې چین د سمندري ترانسپورټ، د بېړیو د جوړونې، سمندري حاصلاتو او د بېړیو د عملو شمېر په برخو کې د نړۍ مخکښ ځای نیولی او په ګرده نړۍ کې یې خپلې سمندري ترانسپورټي کرښې او خدمتي شبکې جوړې کړې دي.

چین له ډېرو کلونو کوښښونو وروسته د سمندري ترانسپورټ د بنسټیزو تاسیساتو د ابادۍ په برخه کې ډېر پرمختګونه کړي دي. چین د شانګهای بندر، دا لیان بندر، تیان جین بندر او چینګ داو بندر په شمول لوی او مهم بندرونه او نور عامه بندرونه جوړ کړي، چې په دغو بندرونو کې د مالونو د حمل و نقل اندازه په نړۍ کې تر ټولو زیاته ده. چین د بندرونو د اټوماتیکو چارو او د اړوندو ماشینونو او تجهیزاتو د تولید د ټکنالوژۍ په برخو کې د نړۍ مخکښ دی. په چین کې د سیندونو د ترانسپورټي کرښو اوږدوالی له ۱۲۷ زرو کیلومترو څخه زیات دی او د دغه اوږدوالي او د مالونو ترانسپورټي اندازه یې په نړۍ کې لومړی ځای لري.



په چین کې په لویه پیمانه د سمندري ترانسپورټ د بنسټیزو تاسیساتو د ابادۍ زمانه پای ته رسیدلې او دغه هېواد په دې هڅه کې دی، چې د عصري او پرمختللې علمي ټکنالوژۍ په مټ سمندري ترانسپورټ ته لوړ کیفیت او نوی پرمختګ ورکړي. پر دې سربېره، بندرونه د یو کمربند او یوې لارې په اوږدو کې د پرتو هېوادونو لپاره له نړۍ سره د نښلولو مهم ملاتړ دی، نو په بهر کې د بندرونو جوړونه لا هم د یو کمربند او یوې لارې پېشنهاد د عملي کېدو مهمه برخه او د چین د نړیوالې همکارۍ مهم ډګر بلل کیږي.

په ۲۰۲۰ کال کې کرونا وبا پر نړیوال اقتصاد او د خلکو پر ژوند ډېرې منفي اغېزې کړې، د دغو ستونزو پر وړاندې په اندازه کې د سمندري ترانسپورټ ونډه له ۸۵ سلنې څخه ۸٦ سلنې ته لوړه شوې ده. تېر کال د سمندري ترانسپورټ په وسیله د چین د صادراتو اندازه ٦ اعشاریه ۷ سلنه زیاته شوې او ۳ میلیارده او ۴٦۰ میلیونو ټنو ته رسیدلې، چې د سمندري ترانسپورټ د سمندري ترانسپورټ له مشکلاتو څخه د نړیوال اقتصاد د وتلو او د چین اقتصاد د احیا په بهیر کې مهم رول لوبولی دی.

د چین د ترانسپورټ وزارت د شمېرنې له مخې، تېر کال د نړیوالې سوداګرۍ د نړیوالې اندازې ۳۰ سلنه برخه یې نیولې او د دغه هېواد د وارداتو او صادراتو د مثبت زیاتوالي لپاره یې ډېر مهم خدمت کړی دی.

د چین د دولت رییس شي جین پینګ څو ځلې د جنګ هه کیسې یادې کړې او دې ته یې اشاره کړې چې د جنګ هه سمندري سفر د قیمتي موادو وړونکې بېړۍ او دوستۍ په تکیه په تاریخ کې شهرت پیدا کړی، نه د پوځي بېړۍ او توپونو په تکیه. شي جین پینګ د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې د سمندر د ګډ برخلیک ټولنې د ابادۍ پېشنهاد وړاندې کړ او ویې ویل، چې انسانان په یوه آسماني رنګه کره کې ژوند کوي او د سمندر لخوا د ګډ برخلیک ټولنې ته وصل دي، چې د بېلابېلو هېوادونو خلک په خوندیتوب او خطرونو کې سره شریک دي. د سمندر سوله او آرامي د ټولو هېوادونو له خوندیتوب او ګټو سره تړاو لري او زموږ ګډو کوښښونو ته اړتیا لري.

د سمندري چارو په برخه کې د یو ځواکمن هېواد ابادي د چین د دولت رییس شي جین پینګ ټینګه اراده او د چینې ملت د نسلونو هیله ده. چین د "۲ سل کلنو موخو" د پوره کولو په هڅه کې دی او په دې اړه یې اخیستل شوي قدمونه ټینګ او استوار دي.

# د بیان آزادۍ پر ضد هڅې او غبرګونونه؛

## د رسنیو ملاتړي بنسټونه: د بیان د ازادۍ پر وړاندې نوي ګواښونه د نظام د ریښو د ایستلو مانا لري

له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له اعلان سره جوخت، پر جګړو او نښتو سربېره، ښکېلو خواوو په دغه هېواد کې د بیان ازادۍ او د رسنیو د فعالیت د محدودولو لپاره هڅې ډېرې کړې دي. رسنۍ او د بیان ازادي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د تېرو دوو لسیزو له مهمو لاسته راوړنو بلل کېږي، په دې وروستیو کې یې د حکومت او طالبانو لخوا د محدودیت هڅې ډېرې شوې دي. تېره اونۍ د افغان حکومت لوړ پوړو چارواکو د رسنیو او د رسنیو له مدافع بسټونو سره د یوې ګډې ناستې پر مهال خبرداری ورکړ، چې که رسنۍ د هېواد اوسني وضعیت ته په کتو، په خپلو نشراتو کې بدلونونه رانه ولي، پر وړاندې به یې جدي قانوني چلند وشي.

د حکومت له دغه خبرداري وروسته، د یو شمېر رسنیو مسوولینو او مدافع بنسټونو پر حکومت نیوکه وکړه چې غواړي په هېواد کې د بیان ازادي او د رسنیو فعالیت محدود کړي. د پژواک خبري اژانس په نامه د یوې خصوصي رسنۍ مشر دانش کروخېل د حکومت دغه کار د قانون خلاف بولي او ټینګار کوي چې رسنۍ په پرېږ ډول خپلې چارې مخ ته وړي او که حکومت په دې برخه کې کومه نیمګړتیا ویني، د خبرداري او تورونو پر ځای یې دې له قانوني لارو تعقیب کړي. نوموړی زیاتوي: «له بده مرغه حکومت په دې سره پر رسنیو لوی اتهام وارد کړ، دا کار یې له قانون سره په ښکاره توګه په ټکر کې دی، که کومه ستونزه وي، د اصولو او قانون له مخې دې یې تعقیب کړي، پر ټولو رسنیو دا ډول اتهام واردول د بیان له ازادۍ او ډیموکراسۍ سره په ټکر کې دي»



په ورته مهال د افغانستان د نجات حرکت هم وایي چې په تېرو شلو کلونو کې د ملاتړ وړ لاسته راوړنو څخه یوه هم د بیان ازادي ده او د بیان له ازادي پرته جمهوریت مانا نه لري. اعلامیه کاږي، د هېواد د موجوده اساسي قانون د ۳۴مې مادې په رڼا کې د بیان ازادي له هر ډول تطمیع او تهدید څخه خوندي ده او هر افغان حق لري چې خپل نظر په ازاد ډول څرګند کړي. اعلامیه کاږي، چې په دې وروستیو کې د دولت مشران او ځینې امنیتي او عدلي نهادونه د نظام د ملاتړ په پلمه د رسنیو مسوولین او د نظر خاوندان په هدفمندانه توګه ګواښي تر څو د دولت پر ناقص مدیریت تنقید ونه کړي. دغه حرکت د هېواد د اوسني ناورین ستر لامل د حکومت کمزوری مدیریت بللی او زیاته کړې یې ده چې د بیان د ازادۍ پر وړاندې نوي ګواښونه د نظام د ریښو د ایستلو مانا لري. په اعلامیه کې له حکومتي مشرانو غوښتنه شوې چې د رسنیو، شنونکو او د نظر خاوندانو د ګواښلو پر ځای غوره ده چې خپلې مدیریتي کمزورۍ سمې او هېواد له اوسني ژور کړکېچ څخه وباسي.

په ورته مهال د افغانستان د ازادو رسنیو د ملاتړ بنسټ یا نۍ هم وايي چې په افغانستان کې رسنۍ په سختو شرایطو کې خپلو فعالیتونو کې دوام ورکړی او حکومت باید د مختلفو بهانو له مخې، پر رسنیو فشار پای ته ورسوي. د یادونې ده چې طالبانو هم د رسنیو کارکوونکو ته بیا بیا خبرداری ورکړی، که په خپلو چارو کې بې طرفي ونه ساتي، پر وړاندې به یې اقدام وکړي.

## د کتاب خبري

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

هغه وخت چې ما کوم درد احساس کړ، د وهلو او سپکاوي له امله نه و. ساتونکي حتی ځان ته دا زحمت هم ورنه کړ چې ده ته مخامخ وړي او لوڅ انسان ته څه ووايي، که نور څه نه وو، د انسانیت یوه مبهمه یادونه خو یې ورته کولی شوای. ده هېڅ هم ونه ویل، حتی کنځل یې هم ونه وکړل، بس ښه په خوشالۍ یې یوه تیږه راواخیسته او په ماپسې یې راخوشې کړه. دا کار یې بیخي داسې و لکه څوک چې کوم څاروی رااړوي یا کوم حیوان د کار لپاره راګرځوي، داسې یو موجود چې بیخي لږ ورته والی ورسره لرې او حتی جزا هم نه ورکوي. زموږ په وهلو کې تر ټولو دردوونکې برخه هغه سپکاوی و چې دوی راته کاوه. یوه ورځ مو باید پر کنګل شوې لاره اوږده او درانه تیران وړي وای. که یو کس ښوېدلی وای، نو هغه نور یې هم له ځان سره غورځول چې تیر یې روان کړی و. سره له دې چې زما د یوه ملګري د خاصرې لګن د زېږېدو له وخته ستونزه درلوده، خو دی بیا هم خوښ و چې له دې نیمګړتیا سره یې بیا هم کار کولای شو، ځکه د ټاکلو پر وخت به چې کوم کس د غړي نیمګړتیا درلوده، د مرګ خونې ته به یې لېږه. دی پر کنګل لارې وښوېده، نږدې له تیر سره پر ځمکه رالوېدلی و او نور خلک یې هم له ځان سره راغورځولي وو. په دې وخت کې له ما سره تیر نه و، هېڅ فکر مې ونه کړ او زر مې د مرستې لپاره ورمنډه کړه. په دې وخت کې مې ناڅاپه پر شا ګوزار وخوړ، ساتونکي ورټلم او بېرته یې خپل ځای ته د تللو امر راته وکړ. جالبه دا ده، کوم ساتونکي چې زه ووهلم، څو شېبې مخکې یې راته په ډېره غوسه ویلي وو چې تاسو د خنځیر زامن هېڅ د مرستې او همکارۍ حس نه لرئ.

بل ځل منفي شپاړس درجې یخني وه او موږ په یوه ځنګل کې د پایپونو ښخولو لپاره ځمکه کیندله. ځمکه ټوله یخ وهلې وه. زه له فزیکي پلوه ضعیفه شوی وم، په دې وخت کې سرکاریګر راغی، سره غومبوري یې پړسېدلي وو. ما ته یې په لیدو خنځیر رایاد شو. زما سترګې یې په هغه سخته یخنۍ کې پر تودو او پستو دست‌کشو خښې شوې. یوه شېبه راته ځیر شو، لکه ښکاري چې په کمین کې راته ناست وي، ځکه ما چې څومره ځمکه کیندلې وه، په مخ کې مې پرته وه او همدې زما د کار اندازه ښودله.

ناڅاپه یې غږ لوړ شو: «خنځیره! له څه وخته مې درته پام و! اوس به زه کار در وښیم، اوس درباندې په خوله دا ځمکه کنم چې د حیوان غوندې مردار شې! په دوو ورځو کې به دې ختم کړم! په ژوند کې دې هېڅ کار نه دی کړی. څه شی یې خنځیره؟ سوداګر؟»

اوبه نورې له ورخه تېرې وې. زما د مړینې په اړه د هغه اخطار مې باید جدي ګڼلی وای، په دې خاطر مې مخامخ سترګو ته وروکتل او ورته ومې ویل: «زه ډاکټر وم، متخصص ډاکټر.»

راته وې ویل: «څه؟ ډاکټر؟ دا خو به له خلکو ښې ډېرې پیسې اخیستې وي.»

ما ورته وویل: «کار مې زیاتره د پیسو لپاره نه دی کړی، د بېوزلو په کلینیک کې مې کړی دی.» خو لکه چې ډېر غږېدلی وم، هغه راباندې کړل، پر ځمکه یې راځملولم، د لېونیانو په شان چیغې یې وهلې، خو زما اوس نه یادېږي چې څه به یې ویل. له دې کیسو مې موخه یوازې دا ښودل دي چې، کله کله داسې شېبې هم راتلې چې د یوه مسخ شوي زنداني کرکه او غوسه به یې هم راپارول. دا کرکه او غوسه به د درد او بې رحمۍ له امله نه وه، بلکې په دې کې له پټ سپکاوي به وه. هغه وخت به مې سر نور ډز کاوه، ځکه ما باید د خپل ژوند په اړه د داسې چا قضاوت اورېدلی وای چې هېڅ ترې خبر هم نه و. دا کس دومره بد او ظالم ښکارېده چې په روغتون کې زما د وارډ مخې ته ناست نرس به حتی زما د انتظار خونې ته هم نه وای راپرېښی (یو شی باید ومنم. وروسته مې چې د زندان ملګرو ته د هغه کس په اړه دا خبره وکړه، نو یوه ماشومانه غوندې ارامتیا مې احساس کړه.)

**دوام لري...**

# نصیر احمد احمدي

**احسان الله کریمي**

نصیر احمد احمدي د فتح الله احمدي زوی و، چې په ۱۳۵۳ کال کې د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې زېږېدلی و. نوموړی په ۱۳۵۸ کال ښوونځي کې شامل شو او تر درېیم ټولګي یې په سیمه کې د سلطان محمود غزنوي په لیسه کې زده کړې وکړې، خو کورنۍ یې د جنګ جګړو او په دې خاطر چې پلار یې په کابل کې په یوه شخصي شرکت کې دنده درلوده، کابل ته کډه وکړه. هغه وخت یې کور د کابل په خوشال خان مېنه کې و او احمدي د همدې سیمې په یوه ښوونځي کې چې د سپین کلي په نوم یادېده، شامل شو.

احمدي تر نهم ټولګي پورې په سپین کلي لیسه کې زده کړې وکړې، بیا یې د حبیبیې لیسې ته تبدیلي وکړه او په ۱۳۷۰ کال کې له نوموړې لیسې څخه فارغ شو.

په ۱۳۷۱ کال په کابل کې د جنګ جګړو له امله د دوی کورنۍ بیرته کلي ته لاړه او نصیر احمد احمدي د خان کلاه په متوسطه ښوونځي کې د ښوونکي په توګه دنده پیل کړه. احمدي د تاریخ او جغرافیه د مضمونونو تدریس کاوه او دوه کاله یې په ښوونځي کې د ښوونکي په صفت دنده تر سره کړه.

نوموړی په یاد ښوونځي کې تر استادۍ وروسته پېښور ته لاړ، هلته یې د یوه کال لپاره د (ډي اي آی) موسسې لخوا یو کرنیز کورس ولوست. په دې کورس کې یې د کرنې په ځینو برخو کې خصوصاً د بڼوالۍ په برخه کې معلومات تر لاسه کړل او وروسته بیا په همدې موسسه کې د کارکوونکي په توګه وټاکل شو.

احمدي به له خپلو نورو همکارانو سره د هېواد ځینو برخو ته سفرونه کول او خلکو ته به یې د بڼوالۍ د ارزښت په اړه معلومات ورکول. دوی به د مېوه لرونکو ونو اصلاح شوي نیالګي او کیمیاوي سرې لرو پرتو سیمو ته وړل او له خلکو سره به یې د بڼونو په جوړولو کې مرسته کوله. احمدي په ډي اي آی کې دوه کاله دنده تر سره کړه او په ۱۳۷٦ کال یې د کانکور ازموینه ورکړه او د کندهار پوهنتون د کرنې پوهنځي ته بریالی شو. نوموړي یو کال پوهنتون ولوست، خو هغه وخت جګړه وه، د پوهنتون لیلیه وتړل شوه او د احمدي په شان ډېرو نورو محصلینو ونه شوای کړای چې خپلې لوړې زده کړې پای ته ورسوي.

هغه وخت احمدي ایران ته په مزدورۍ پسې لاړ او دوه کاله یې هلته سترې او درانده کارونه وکړل. نصیر احمد احمدي په ۱۳۸۰ کال کې بېرته خپل وطن ته راغی او خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ.

نوموړي له ۲۰۰۳ کال راپدېخوا د بي بي سي راډیو په تعلیمي برخه کې دنده تر سره کوله، په پیل کې یې په نوموړې اداره کې د رپورټر دنده پر مخ وړله، خو له تېرو شپږو کلونو راپدېخوا د ماشومانو او لویانو لپاره د فیچر خپرونو د ایډېټر په حیث پر کار لګیا و.

احمدي له مطالعې سره له پخوا مینه درلوده. ده به د ښوونځي پر مهال خپل ډېر وخت د لیسې په کتابتون کې تیراوه. په دې وخت کې احمدي له رسنیو سره کار پیل کړ او د یو خبریال په توګه راڅرګند شو. د خبریالۍ په ډګر کې یې د بي بي سي راډیو له تعلیمي برخې سره کار پیل کړ او د ژوند تر اخره په یاده برخه کې پر کار لګیا و. نصیر احمد د خوږ ژبي کیسه لیکوال په توګه شهرت لري او لنډو کیسو او ناولونو یې د ډېرو کره کتونکو پام وراړولی دی. د احمدي د کیسو او ناولونو یوه ځانګړنه دا ده چې ډېر انځورونه پکې کلیوالي دي او کلیوالي رنګ لري.

د اروابناد احمدي ناولونه د ولسونو تر منځ د ملي افکارو راوېښولو، ذهنیت جوړونې او د ټولنیز سمون لپاره ښه متون دي او پنځول شوي اثار یې د تطبیقي کره کتنې له نظره د سیمې او نړۍ له ناولونو سره سیالي کولای شي.

احمدي له سپوږمۍ راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي وو، چې په ناول او لنډو کیسو کې یې تل هڅه کړې څو د مظلومو افغانانو د ژوند اصلي انځور وړاندې کړي. د نصیر احمد احمدي همکار آصف عمر وایي، په ۲۰۰۳ کال کې د بي بي سي تعلیمي خپرونو ته اروابناد احمدي را کامیاب شو. د هر بل ځای په پرتله دلته کار ډېر و، خو د دفتر دوستانه فضا هرچا ته د خوښۍ او شوخۍ انرژي ورکوله. په دې منځ کې دوه ملګري تر نورو ډېر شوخ برېښېدل. یو یې نصیر احمد احمدي او بل یې صالح محمد صالح و. دوی به یو ځای ګرځېدل، په ښځینه او نارینه همکارانو به یې د «اې چینجنې! یا اې چینجنه!» غږ کاوه. ماته ښه نه ښکارېدل. خو همکارانو بده نه ګڼله. وروسته صالح له دفتره خپه لاړ. ما د نصیر احمد په څېره کې داسې خپګان ولید لکه سړي چې ورور له لاسه ورکړی وي. دلته مې سر خلاص شو چې خلک ورڅخه ولې نه خپه کېدل. هغه د مینې او عاطفې یو سمندر و. دغه مینه هغه په شوخۍ کې همکارانو ته ورکوله. ځکه په هغوی خوږه لګېدله. یوه ورځ د ډوډۍ خوړلو خونه کې ناست وو. هرچا د ډوډۍ پر سر د خپل کار ستاینه کوله. ده وویل، ما خپل نږدې دوست اسدالله غضنفر ته وویل چې په دفتر کې مې کار د ډېرو تجربه لرونکو ښځو له کار څخه ښه دی. هغه ویل ښځې پرېږده، له سړیو سره سیالي وکړه.

آصف عمر وایي، د دغو ټولو خوشحالیو او پرمختګونو تر څنګ د نورو په څېر هغه هم درد درلود، ستونزو ځوراوه، په افغانستان کې د ډونرانو د کمکونو کمېدو د هغه په نورو اندېښنو سربېره دا اندېښنه هم وپاروله چې دفتر به وتړل شي. هغه به څه کوي؟ ماته عجیبه برېښېدله. دا اندېښنه باید نورو درلودی، نه دومره مشهور لیکوال. آصف عمر وایي، ژوند ښه په درز کې روان و. د نصیر جان ټوکو هماغسې د همکارانو په څېرو کې خندا خپروله. له کومې خوا څخه کرونا میراث‌مړي راپیدا شوه. بیا د ډونرانو زیات کمښت د نورو همکارانو په څېر احمدي ته هم اندېښنه پیدا کړه. مګر له کرونا څخه نه ډارېده. ډېری وخت به یې ماسک نه اچاوه. زما په شمول ډېرو همکارانو ورته د احتیاط سپارښتنه کوله. کله کله به یې زموږ د خوشحالولو لپاره ماسک واچاوه، خو وروسته به بیا لڅ مخ ګرځېده. ټوکې به یې کولې. موږ په نظر کې لرل چې په نږدې راتلونکي کې د افغان ماشومانو لپاره د ژوندي کارټون په شکل ویډیویي پارچې جوړې کړو. نصیر احمد احمدي په موبایل کې د خپلې لور ویډیو راوښودله. ښایسته تمثیل یې کړی و. هغه ورته ډېر خوشحاله و. ما یې په سترګو کې د اولاد د ښې روزنې غرور لیده. ما ویل کاش چې ټول افغانان د اولاد په روزنه کې همداسې زحمت وباسي. په تېره بیا د لور د زده کړو او پرمختګ په اړه. قسمت داسې و چې بالاخره هغه ناروغ شو. زه د ماشومانو د خپرونو په دفتر کې له همکارانو سره غږېدم، دی راغی، له دروازې څخه یې همکارانو ته سپارښتنې وکړې. وروسته یې وویل چې پر سر یې درد او بې حاله دی. عادي یخ وهلی دی. موږ غلي غلي په شونډو کې موسل چې ګواکې ډارېږي، خو هغه د تګ پر مهال وویل: «چې زما مریضي دا بله محترمه نه وي.»

کرونا یې یادوله، موږ وخندل، بله ورځ مې په احمدي پسې سترګې وغړولې، هغه نه و، دفتر ته ورغلم، څراغ یې مړ و. کله چې له همکارانو څخه د هغه د تکلیف له زیاتوالي خبر شوم، زنګ مې وواهه، وارخطا و، ما ویل څه تکلیف لرې؟ وېې ویل کرونا ده کرونا. داسې تېز غږېده لکه سړی چې په منډه کې چا ته خبره کوي. تسلي مې ورکړه چې کرونا به نه وي. که وي هم دومره خبره نه ده. په ډېرو په اسانه تېرېږي. هاغه لږ کسان چې په تکلیفوي هم اکثره یې بېرته جوړېږي. ویل نه وېرېږم. تشویش یې دا و چې بچیان یې غزني ته تللي، دلته یوازې دی، ما ویل خو ته هم لاړ شه، هلته به دې ښه خدمت وشي، دلته به یوازې څه وکړې؟ ویل یې وېرېږم چې هغوی راڅخه ناروغ نه شي، ویل یې دلته مې یو ورور راسره دی، خدمت مې کوي، ما باور نه کاوه چې هغه دې په کابل کې پاتې شي، هغه به له خدایه پلمه غوښته چې وطن ته لاړ شي. همداسې هم وشول. ټلېفون یې کار نه کاوه، ما ویل ځه خو د دوی په ولسوالۍ کې معمولاً ټلېفون کار نه کوي. څو ورځې پس خبر شوم چې تکلیف یې بېخي زیات دی. مسبح مې ورته وکړ، راته یې ولیکل چې درې ورځې په کوما کې وم، اوس اکسجن اخلم، د بدن اکسجن مې څلوېښتو ته ټیټ شوی و، اوس ښه دی پنځوس دی، هیله یې لرله چې لا به ښه شي، په پای کې یې لیکلي وو «خدای دې خیر کړي.»

څه موده وروسته یې ورور په ټلېفون کې وویل چې کابل ته یې درولو. ما ویل ښه کوی، دلته هم ډاکټران ښه دي هم روغتونونه مجهز دي. بله ورځ خبر شولو چې اکسجن یې آن اتیاوو ته لوړ شوی دی. په دفتر کې د ټولو همکارانو امید پیدا شو، هرچا ورته دعا کوله، خو تېر ماسختن(د شنبې ورځ د شپې یوڅه ناوخته) چې مې ټلېفون راواخېست او د هغه د مړینې په باب مې ولوستل سر مې وګرځېد. هغه یوازې زموږ تکړه همکار او خوږ ملګری نه، بلکې په کیسه لیکنه کې د پښتو ادب لمر و. زموږ دا لمر د تل لپاره خاموشه شو. موږ به هاغه ګلالی انسان بیا ونه وینو چې په خپلو خوږو اخلاقو یې همکاران او د کیسو په خوږو یې پښتانه تازه او خوشاله ساتل. زموږ نصیب خدایې خراب دی، چې په موږ کې یو ښه وي یا یې دښمن وژني، یا د خوشحال خټک خبره موږ خپله ورته جلادان شو. اوس خو کرونا راته بل غضب هم پیدا شوی دی. نور مو څه په وس پوره دي؟ بس دعا به ورته کوو.

ښاغلي احمدي په خپل شاوخوا ۲۵ کلن ادبي ژوند کې د خپل ادبي عمر برابر شاوخوا ۲٦ کتابونه ولیکل او ځینې یې وژباړل، چې تر ټولو وروستی لیکلی کتاب یې «د غني خاله» په نوم ناول و، چې شاوخوا یوه میاشت مخکې چاپ شوی.سره سیلۍ، مینه، د واورې سړی او اشر د احمدي د لنډو کیسو ټولګې دي. بوډا او لېوانو پلونه، رڼا، برېوکۍ، یوه خبره درته وکم؟ جوجو، اغزن سیم، زرو، د معجزې تیره ژباړلی ناول، نیکه، بغدادي پیر، پټان، اخ، وطنه، ټال، رنګه غوړونه او د غني خاله د نوموړي ناولونه دي. ابوریحان البیروني، کاتب هزاره، موسی شفیق او محمد هاشم میوندوال د نوموړي په قلم لیکل شوي ژوند لیکونه دي.

احمدي په اوس وخت کې د ناول لیکونکي په توګه د پښتنو په لر و بر وطن کې په ځوانانو کې تر بل هر لیکوال زیات شهرت درلود او کتابونه یې ډېر زیات لوستل کېدل، چې هر ناول یې څو څو واره چاپ شوی دی.

خو دې سترې هستۍ د ۱۴۰۰ کال د چنګاښ میاشتې په ۱۹مه د ۴۷ کلونو په عمر خپل ټول مینه‌وال او لوستونکي د تل لپاره پرېښودل او له دې نړۍ څخه یې د تل لپاره سترګې پټې کړې. د احمدي مړینې ډېر خلک، د هغه د کتابونو لوستونکي، مینه‌وال او لیکوالان غمجن کړي او پر ټولنیزو رسنیو یې د هغه پر مړینه خواشیني څرګنده کړې او د هغه مړینه یې د پښتو ادب لپاره ستر زیان بللی دی.

شاعر او لیکوال پیر محمد کاروان وایي چې د پښتو ژبې په تاریخ کې به بیا د نصیر احمد احمدي په څېر داسې لیکوال تکرار نشي.

افغان ولسمشر اشرف غني د ښاغلي احمدي پر مړینه خواشیني څرګنده کړې او د هغه مړینه یې پښتو ادب ته لوی زیان بللی دی. د ارګ په خبرپاڼه کې د ولسمشر غني له خولې لیکل شوي: «نصیر احمد احمدي د پښتو ژبې د بډاینې او په ځانګړي ډول د پښتو ناول لیکنې په برخه کې د قدر وړ هلې ځلې وکړې او ډېر ګټور ناولونه یې ولیکل. نوموړي په خپلو لیکنو کې لوستونکي تعادل، منځلاریتوب او د افغانستان پرمختګ ته بلل».

د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لورې په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې اروابناد احمدي په روانه او خوږه ژبه ډېر داستانونه او کیسې ولیکلې او د تاریخي ناول لیکنې په برخه کې بې جوړې او کم سارې لیکوال و. هغه په دې وروستیو کې د تاریخي ناول لیکنې لړۍ د هېواد د ملي کلتور او هویت پر بنسټ پیل کړې وه او په دې ترڅ کې یې د هېواد پالنې لپاره ښه ذهنیت جوړونه وکړه.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت مشرتابه د اروابناد احمدي مړینه د افغانستان د معاصرو داستاني ادبیاتو په برخه کې لویه ضایع بولي.

اروابناد نصیر احمد احمدي د ۴۷ کلونو په عمر د تېر شنبې په ورځ له دې نړۍ سترګې پټې کړې. د نوموړي جنازه د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۵۰ |
| € | ۹۴,۸۰ |
| Rp. | ۵۰۱ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۸۰ |
| £ | ۱۰۹,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# په سهار کې مو دغه تېروتنې له ماتې سره مخ کوي

ژباړه: صفي الله پادشاه

له شک پرته چې تاسو هم څو ځله د بریالیتوب د فورمول په هکله لوستي او اورېدلي دي. د بریالیتوب لپاره مختلفې او حیرانوونکې لارې شته چې ډاډه یم تاسو هم ډېرې دغه لارې ازمویلې دي. خو فکر نه کوم چې تر دې دمه به مو د «ماتې» د فورمول په هکله ډېره پلټنه کړې وي، ځکه؛ هېڅوک نه غواړي چې ماتې وخوري.

خو باور دا دی چې د بریا تر لاسه کولو لپاره ماتې خوړل او د ماتې پر فورمول پوهېدل ډېر مهم دي. موږ په دې مقاله کې هڅه کړې څو د هغو کړنو په هکله خبرې وکړو چې ستاسو د بریالیتوب احتمال کموي او له ماتې سره د مخ کېدو پر لور مو بیايي.

البته موخه مې د ماتې تولیز فورمول نه دی، بلکې هغه کارونه دي چې که چېرې یې له خوب څخه له راپاځېدو وروسته تر سره کړی، تاسو د ماتې خوړلو پر لور بیايي. ښایي دغه کړنې ستاسو له نظره ډېرې ساده او بې ارزښته وي، خو اغېزه یې له هغه ډېره لویه ده چې تاسو یې په اړه فکر کوی. نو راځئ پوه شو چې یادې تېروتنې کومې دي:

**لومړۍ تېروتنه: له راویښېدو وروسته کوک کېدونکی ساعت بیا بیا تنظیمول او بېرته ویده کېدل**

ډېری له موږ او تاسو څخه عادت یو څو د ساعت په زنگ سره سمدلاسه له خوبه راویښ شو، خو ښایي تاسو هم د ډېرو نورو په څېر د کوک شوي ساعت له زنگ وروسته د خپل ساعت زنگ یو ځل بیا د څو راتلونکو دقیقو لپاره تنظیم کړی او بېرته ویده شی. خو له څېړنو سره سم، دغه په ظاهره ساده او اسانه کار ستاسو پر ژوند او بریالیتوب باندې منفي اغېزه کوي. ان که د دغه عادت د څرنگوالي په هکله ډېر فکر هم وکړی، بیا هم یو غوره عادت نه دی او د کار پر مهال ستاسو د اغېزناکتوب او گټورتیا کچه راکموي.

ایرلنډی لیکوال، جانتن سوېفټ وایي، هېڅ داسې څوک مې نه دي لیدلي چې سهار تر ناوخته پورې ویده وي، خو بریا ته رسېدلی وي. ډېری ډاکټران او متخصصان لارښوونه کوي څو د سهار پر مهال د ساعت په لومړني زنگ سره له خوبه را پاځېږو او هڅه ونه کړو چې بیا ویده شو. د دغې لارښوونې دلیل دا دی چې کله تاسو خپل ساعت خاموشوی او بېرته ویده کېږی، د ژور خوب یوه داسې څرخ یا دوران ته د ننه کېږی چې که له هغه وروسته سهار وختي هم پاځېږی، بیا به هم د ورځې په اوږدو کې ستړي او بې سبکه وی.

له خوب څخه د ویښېدو په هکله یوه غوره لارښوونه د «پنځو ثانیو قانون» په نوم کتاب کې چې د مېل رابینز اثر دی، راغلې ده. نوموړې وایي چې د ساعت له زنگ سره سم په معکوس ډول له پنځو څخه تر یو پورې حساب وکړئ او په ډېرې چټکۍ سره د خپل خوب له ځایه پاځېږئ. البته په یاد ولرئ چې په کافي اندازه خوب، د هغو عواملو له ډلې څخه دی چې له موږ سره مرسته کوي څو د سهار پر مهال خپل ساعت بیا بیا کوک نه کړو او په یو ځل زنگ کولو سره له خوبه راپاځېږو. نو هڅه وکړئ چې د شپې لخوا پر وخت ویده شئ. البته که کومه شپه ونه توانېدی چې پر وخت ویده شی، په سهار یې خپل ساعت بیا بیا مه کوک کوی او له ویښېدو وروسته بېرته مه ویده کېږی، څو د ورځې په لړ کې تر او تازه اوسئ.

**دویمه تېروتنه: د سهار پر مهال له ویښېدو سره سم چای یا قهوه خوړل**

ډېری خلک په دې باور دي چې له خوب څخه له راویښېدو سره سم باید قهوه وخوري، څو په حال شي؛ خو په خواشینۍ سره دغه کار هم د لومړي په څېر یوه تېروتنه ده او د ورځې په اوږدو کې ستاسو د بریالي کېدو چانس کموي. د ارواپوهانو له څېړنو سره سم، زموږ بدن د سهار له ۸ تر ۹ بجو په موده کې په طبیعي ډول د سټرس هورمون یا کورتیزول ترشح کوي؛ نو که چېرې په همدې موده کې او یا له هغه وړاندې قهوه وڅښئ، نو دا چې په بدن کې مو په لړه اندازه کورتیزول ترشح کېږي، همدا لامل دی چې د ورځې په لړ کې مو د بدن گټورتیا او تمرکز کمېږي. نو غوره دا ده چې د سهار له نهه نیمو وروسته چای یا قهوه نوش جان کړئ.

له یاده مه باسئ چې یادې کړنې په ظاهره ساده او کم ارزښته ښکاري، خو پر هغوی باندې تر سره شوې څېړنې ښیي چې یادې چارې ستاسو بریالیتوب او گټورتوب تر اغېزې لاندې راولي.

**درېیمه تېروتنه: له ویښېدو وروسته د خوب په ځای کې کېناستل او بې حرکته پاتې کېدل**

تاسو له خوب څخه له راویښېدو وروسته په چټکۍ سره پاځېږی، یا په همغه ډول غځېدلي پاتې کېږی او یا دا چې پر خپل ځای کې کېنی. ډېر کله داسې پېښېږي چې موږ له راویښېدو وروسته د څو دقیقو لپاره په غځېدلي یا ناست حالت کې پاتې کېږو. دغه کار د ورځې په اوږدو کې ستاسو د سټړیا او تنبلۍ لامل کېږي او پر تمرکز او بدني انرژۍ باندې مو اغېزه کوي. نو غوره ده چې په دې حالت کې پر خپل ځای پاتې نه شئ او بدن ته مو له څنډ پرته حرکت ورکړئ.

له څېړنو سره سم، له ویښېدو وروسته بې حرکته پاتې کېدل د دې لامل کېږي څو د ورځې په اوږدو کې بې انرژۍ او ستړي وی. خو کله چې له ویښېدو وروسته ځینې کششي حرکتونه تر سره کړی، ورځ به مو له انرژۍ ډکه، تر او تازه تېره شي.



د هاروارډ پوهنتون اروپوه، ایمي کادي وایي: له ویښېدو وروسته د لاسونو پرانیستل او هغوی ته حرکت ورکول، د دې لامل کېږي څو د یوې غوره ورځې د پیل کولو لپاره تاسو په کافي اندازه پر ځان باور ولری.

**څلورمه تېروتنه: له خوب څخه له راویښېدو سره سم د انسټاگرام، تېلېگرام او ایمېلونو راخلاصول**

تاسو چې کله له خوب څخه راویښېږی، لومړنی کار چې تر سره کوی یې، څه دی؟ ډېری له موږ څخه له راویښېدو سره سم خپل موبایل را اخلو او خپل پیغامونه چک کوو. ښایي تاسو هم د ډېرو نورو په څېر دا حالت تجربه کړی وي؛ خو لکه څرنگه چې فکر کوی، دغه کار نه یوازې دا چې سم نه دی، بلکې ستاسو په کارونو او موخو ته په رسېدو کې ستاسو د ماتې لامل کېږي.

کله چې تاسو له ویښدو سره سم خپل موبایل را اخلی، نه یوازې دا چې له خپل ځانه د سم راویښېدو فرصت اخلی، بلکې ذهن مو همغه د ورځې په پیل کې پر داسې پیغامونو او موضوعاتو اخته کېږي چې ښایي ستاسو د خوښې وړ نه وي او د ورځې په لړ کې مو له ذهني بوختیا او گډوډۍ سره مخ کړي.

په دې هکله د نامتو لیکوال، جولي مورگېن سټرېن لخوا یو کتاب لیکل شوی چې عنوان یې «هېڅکله له ویښېدو وروسته خپل ایمېلونه مه چک کوئ» دی. نوموړې پر دې باور دی چې که چېرې خپل سهار د ایمېلونو او پیغامونو پر لوستلو پیل کړی، هېڅکله نه شی کولای چې خپل ذهن مو د ورځې په لړ کې پر مهمو کارونو باندې متمرکز کړی. دلیل یې دا دی چې ایمېلونه او پیغامونه له ستونزو، غوښتنو، یادونو او خاطراتو ډک دي او دا چې د سهار پر مهال ستاسو ذهن لا هم چمتو نه دی، دې دا ډول پیغامونو لوستل پر تاسو باندې په زیاته کچه سټرس واردوي. نو غوره ده چې دغه کار خپل مناسب وخت ته پرېږدئ.

دغو ساده او کوچنیو کارونو ته په کمه سترگه مه گورئ. ځکه سهار، د یوې غوره ورځې د پیل کولو بنسټ دی، نو که چېرې یو ناسم او ناخوښ سهار ولری، ټوله ورځ به مو د خوښې خلاف له ذهني بوختیاوو، سټړیا او ډېرو فکرونو سره تېره شي.

# راپورونه: په هند کې د تالندې او برېښنا په پېښه کې ۱۸ کسان مړه شوي

د راپورونو له مخې، د هند په راجستان ایالت کې د تالندې او برېښنا په پېښه کې ۱۸ کسان مړه شوي دي. د دغه هېواد د راجستان ایالت ځایي چارواکي وایي، د دغو ۱۸ کسانو له ډلې ۱۱ یې ماشومان دي او په پېښه کې ۱٦ کسان ټپیان شوي هم دي. د جایرام په نامه د پولیسو یوه سیمه ییز منصبدار رویټرز خبري اژانس ته ویلي، چې سیلانیان د امیر کلا د تاریخي ودانۍ لیدلو ته ورغلي وو چې دا پېښه رامنځته شوه. د نوموړي په خبره: «باران پیل شو او هغوی د څارنې په برج کې راټول شول، برېښنا او تندر په دې برج راپرېوت، ۱۱ تنه یې ځای په ځای مړه کړل.»

د راجستان وزیر اعلی اشوک گهلوټ په خپل ټویټر لیکلي چې اووه تنه نور ماشومان د تالندې او برېښنا په دوو نورو ځانگړو پېښو کې مړه شوي دي. دغه راز د راجستان د گاونډیو ایالتونو مدها پرادېش او اوتار پرادېش څخه هم د برېښنا او تندر پرېوتلو رپوټونه ورکړل شوي، خو د مرگ ژوبلې په اړه سمدستي شمېرې نه دي ذکر شوي.



د یادونې ده چې په هند کې د باراني موسم پر وخت د برېښنا او تندر توپانونه هر کال پېښېږي چې د جون له میاشتې څخه تر سپتمبر پورې دوام کوي.

بلخوا د یاد هېواد پولیسو ویلي، چې په کشمیر کې د القاعده شبکې یوې ځانگړې پلان درلود چې د هند په شمالي برخه کې بریدونه وکړي. فرانس پرېس خبري اژانس لیکلي، پولیسو دا خبره وروسته تر هغې کړې، چې له دې شبکې سره د اړیکو په تور یې دوه کسان ونیول. دا دوه کسان د اوترا پردېش د مرکز لکهنو په یوې ناحیه کې د ترهگرۍ ضد ځواکونو لهخوا نیول شوي دي.

د اوترا پردېش د پولیسو مشر پرشنټ کومار ویلي، چې نیول شوي کسان له (انصار غزاوت الهند) ډلې سره اړیکه لري، هغه ډله چې په کشمیر کې د القاعده یوه څانگه بلل کېږي. کومار خبریالانو ته ویلي، القاعده شبکې نیت درلود چې له گڼې گوڼې ډکو مارکېټونو کې چاودنې وکړي او لکهنو یې اصلي هدف و.

د کومار په خبره، دوی دا بریدونه د هند د خپلواکۍ له ورځې مخکې چې د اگسټ په ۱۵مه لمانځل کېږي، پلان کړي وو. د پولیسو دغه چارواکي ویلي، دوی د ځانمرگو بریدونو او چاودنو نیت درلود او د دغه کار لپاره یې وسلې او چاودېدونکي توکي هم راټول کړي وو.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایگل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۲۲مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۳مه | ۷۴۹مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۷ | ۳۳ | ۳۸ | ۳۷ | ۲۷ |
| ۲۰ | ۲۳ | ۲۷ | ۲۹ | ۲۶ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۸ | لمر ختل ۰۴:۵۰ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۴:۵۹ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۰

## نړۍ




## صالح: اگر طالبان زمین بیشتر را بدست آورند، باز هم بر کشور حاکمیت کرده نمی تواند



امرالله صالح، معاون نخست رئیس‌جمهور می‌گوید که اگر طالبان زمین بیشتر را بدست آورند، باز هم بر کشور حاکمیت کرده نخواهند توانست و مردم در بخش‌های زیرکنترل طالبان به ستوه‌آمده‌اند.

آقای صالح می‌افزاید که از دید تشکیلاتی طالبان به سه بخش تقسیم شده‌اند که بخش نخست آنان را هسته‌های خاص ستردرستیز پاکستان رهنمایی می‌کند. آقای صالح در صفحه فسبوکش نگاشته‌است که خروج نیروهای خارجی از افغانستان، خلای بسیار آنی را ایجاد کرد اما نیروهای دولتی از نظم برخوردار استند و به زودترین فرصت این خلا را پر خواهند کرد.

در بخشی از این نوشته می‌خوانیم: «از دید تشکیلاتی، قوت دشمن به سه بخش تقسیم می‌گردد؛ بخش اول، نیروهای تعلیم دیده است که بصورت مستقیم از جانب مفرزه‌ها/هسته‌های خاص ستردرستیز پاکستان از پشاور – کویته و نقاط دیگر رهنمایی می‌شوند. وسایل ارتباطی و نقشه‌های گوگل، کار را بسیار آسان ساخته است. بخش دوم قطعات محلی اند که زیر نام کمسیون نظامی کار می‌نمایند، این‌ها نیز به جز از باج گیری از مردم و تحمیل مهمانی بالای مردم محل زیاد نقش ندارند. بخش سوم جذب شده‌ها و احضار شده‌های اخیر اند که هیچ نوع مورال ندارند.»

همزمان با این، برخی از اعضای ولسی جرگه می‌گویند که برای حفظ نظام و دست‌آوردهای چندین دهه گذشته، زنان و مردان باید جنگ‌افزار بگیرند و ایستاده‌گی کنند.

## لېتوانیا: اروپايي ټولنه دې پر بېلاروس نور بندیزونه هم ولګوي

لېتوانیا له اروپايي ټولنې غوښتي چې پر بېلاروس او د دغه هېواد پر څواکمن مشر الکساندر لوکاشینکا له دې کبله نور بندیزونه هم ولګوي، چې د بالتیک دغه هېواد ته د غیر قانوني کډوالو جوپې استوي.

ویلینیوس پر مینسک تور لګوي چې له غیر قانوني کډوالو څخه د اروپايي ټولنې د مخکینیو بندیزونو په ځواب کې د دې ټولنې پر ۲۷ غړو هېوادونو د فشار د یوې وسیلې په توګه کار اخلي.

د لېتوانیا د بهرنیو چارو وزیر ګابریلیوس لاندس بیرګیس په اروپايي ټولنه کې له خپلو سیالانو سره په غونډه کې د ګډون لپاره بروکسل ته له رسېدو سره سم ویلي: «زما د هېواد لپاره تر ټولو مهمه د کډوالو بې‌ساري جوپې دي، چې له بېلاروس څخه د دغه هېواد د حکومت په مرسته رارسېږي. فکر کوم زما د هېواد لپاره دا ساری نه لري، خو د اروپا لپاره دا لومړی ځل نه دی چې له کډوالو څخه د یوې سیاسي وسلې په توګه کار اخیستل کېږي.»

د یادونې ده چې لېتوانیا د بېلاروس د اوسني مشر اکساندر لوکاشینکا له سرسختو منتقدانو څخه ده، چې د ده د رژیم پر ضد یې د اروپايي ټولنې د سختو اقداماتو غوښتنه مخکې هم کړې ده.

## راپورونه: په نایجیریا کې د وسله وال برید پرمهال نږدې ۵۰ کسان وژل شوي



د راپورونو له مخې، د نایجر په جنوب لوېدیځ کې د وسله‌والې نښتې په پایله کې لږ تر لږه ۴۹ کسان وژل شوي چې ۴۰ تنه‌یې وسله‌وال برید کوونکي دي.

د یاد هېواد چارواکي وایي، چې دغه وسله‌واله نښته د مالي پولې ته څېرمه شوې او برید کوونکو ته پکې درنه مرګ ژوبلې اوښتې ده. د نایجر دفاع وزارت ویلي، په وسلو سمبالو شاوخوا ۱۰۰ برید کوونکو چې پر موټرسایکلونو سپاره وو، ماسپښین پر چوما بانګو کلي برید وکړ. یاد وزارت وایي چې دفاعي او امنیتي ځواکونه په چټک اقدام سره وتوانېدل چې دغه برید شنډ کړي او بریدګرو ته پکې درنه مرګ‌ژوبله واړوي.

چوما بانګو په تیلابیري سیمه کې هغه کلی دی چې د مالي سرحد ته څېرمه پروت دی او وخت ناوخت وسله‌والو ډلو ورباندې بریدونه کړي دي. روان کال د دغه هېواد په لرې پرتو سیمو کې وسله والو بریدګرو څو ځله د عامو خلکو په کورونو بریدونه وکړل چې سلګونو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې ده. د دغو بریدونو مسوولیت ډېری وختونه د بوکوحرام او دغه راز هلته مېشته د اسلامي دولت ډله پر غاړه اخلي. دواړې ډله هڅه کوي چې په دغه هېواد د دوی په وینا، اسلامي حکومت رامنځته کړي.

## ژوند

## پلې تګ د ماشومانو لپاره ګټور دی



پیاده مزل یا تګ د ماشومانو لپاره ډېر په زړه پورې وي او هغوی په ډېر شوق سره پیاده مزل کوي. که چېرته خپلو ماشومانو ته پام ونه کړو، نو هغوی ممکن ناوړه عادتونه خپل کړي، د ژوند طرز یې ښه نه وي او وزن یې ډېر شي. کله چې ماشوم تګ کوي، نو سستي او کمزوري یې ختمېږي. په ورځ کې تر نیم ساعته پورې که چېرته منډه ووهل شي یا لږ غوندې ورزش وشي، هغه ده چې د بدن دفاعي سیستم به یې پیاوړی شي. پیاده مزل یا تګ ماشومان له هغو ناروغیو خوندي ساتي چې د ماشومتوب پر مهال خپرېږي، چاغښت یې ختمېږي، عضلې یې نرمښت مومي او هډوکي یې پیاوړي کېږي. دغه راز خواړه په ښه ډول هضمېږي او بدن یې په آسانۍ جذبوي او انرژي یې ډېرېږي. که په ورځني ډول تر نیم ساعته پورې ماشومان پیاده مزل وکړي، دفاعي سیستم به یې پیاوړی شي او هیڅ ناروغي به پرې حمله ونه کړای شي. دغه راز د بې خوبۍ ستونزې یې حلوي او مناسبه وده کولی شي.

## هغه ځیرک موبایل چې یوازې ۱۰ دقیقو کې چارجېږي

د چین د ځیرکو موبایلونو کمپنۍ د غوره ځانګړنو او ارزان بیه ځیرکو موبایلونو وړاندې کولو لپاره میلیونونه مینه‌وال لري، خو اوس دغه کمپنۍ د چټک چارج په برخه کې هم سره رقابت کوي. اوس انفینېکس نومې یوې چینایي کمپنۍ داسې یو ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړی، چې یوازې ۱۰ دقیقو کې په بشپړه توګه چارجېږي. انفینېکس کانسپټ فون۲۰۲۱ کې ۴۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې، چې له ۱۶۰ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل پر پیاوړې بېټرۍ سربېره نورې هم ډېرې غښتلې ځانګړنې لري، خو په اړه یې ډېر معلومات نه دي خپاره شوي. انفینېکس کمپنۍ وایي چې د چارج د پیاوړي او غښتلې ټکنالوژۍ په مرسته دغه ځیرک موبایل به یوازې ۱۰ دقیقو کې ٪۱۰۰ چارجېږي.



له دې سربېره، دغه کمپنۍ ادعا کوي چې دغه ځیرک موبایل کې داسې ټکنالوژي کارول شوې ده، چې د دغه چټک چارج له امله په بېټرۍ فشا نه راځي او نه ګرمېږي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank